## عـلم څـه شـــي دی ؟

تعریف: عـلم یوه عـربي کلیمه ده چـــي په لغت کي پیـژنـدني ، شعـور ، ادراک او اطمنان ته وایـــي او پــه اصطـلاح کي دبهـرنیو واقیعتـونـو زده کـړي او پـوهي ته عـلم وایي. او یا په بــل عبارت:

د تیـرو شـویـو تجربــو تکــــــرار عبارت لــه علم څخه دئ .

## دعــلم ډولــونه

شرحه: عـــلم پــــر دوه ډولــه دی لکه: ۱ قـدیمي علـم ۲ حـــادث عـلم .

## قدیمي عـــلم

تعریف: قـدیمي علــم هغه علــم دی چه دالله (ج) سره دی چي دهغه ازلي او ابدي صفت هم ګڼل کیږي .

## حادث عـلم

تعریف: حادث عـلم هغه عـلم دی چي دالله (ج) د بنده ګانو سره دی چي دا عـلم خپلــه پــــردوه ډولـه دی لکه : ۱ فطري او ۲ کسبي عـلم دئ.

## فطـري عـــلم

تعریف: فطري عـلم هغه علم دی چه الله (ج) بنده ته دپیدایښت سره سـم وریه بـرخــه کړي دئ.

## کسبــي عــلم

تعریف: کسبي علم هغه عـلم دی چه د الله (ج) بنده ګان ئي یي په فکر او زیار سره لاسته راوړي .

## د ثـقافت تعـریف

تعریف: ثـقافت په لغت کي دثـقف له فعل څخه اخیستل شوی دی چي پـه ډیرومعناګانـــو سره کارول شوی دئ لکه : پـوه ، زیـرک ، مـونـدل ، تهزیب او تـأدیب او نور....

او په اصطلاح کي: ثـقافت دهغـو کُلي تصوراتـو او افکـارو علم دئ چـي پـه مذهبـي او هـــراړخیـــزه توګـه پـه اسلام او مسلمانانــو پـوري اړه لـري.

## دثقافت علم څه شي څیړي؟

شرحه: داعـلم داسلام ددین دمختلفو نظامونـو مفاهمو او مناهجـو څخه بحث کـــوي او څیـړي یـي لکه: عقیـدوي نظام ، عبادتـي نظام ، ددعوت او محاسبـې نظام ، علـمي نظام ، اخـلاقـي او کـورنـۍ نظام او داسي نور.....

## داسـلامـي ثقافت پړاونــه

شرحه: اسلامـي ثـقافت څلور پړاوه لـري لکـه: ۱ دنبـوت دعـصر مرحلـه ، ۲ دخلفـاوو راشدینـو مـرحلـه ، ۳ ذهـني مرحلـه ، ۴ دجمـود او رکـود مـرحلـه .

## داســلامي ثقافت مصادر (مأخذونه)

شرحه: داسلامي ثقافت مصادر څلـور دي لكه: ۱ قرآنكريم ، ۲ نبوي سنت ، ۳ اجـماع ،۴ قـياس.

## عـقـل څه شـي دئ

تعريف: عـقل پـه لغت كـي دتړلو او بنـدولـو په معنى دئ او په اصطلاح كـي عقل هغه قوت او توان دى چـي غلطــئ وپيژنـي او يـا په بل عبارت: عقل هغـه قوه (تــوان) دئ چي پــه حقيقي ډول ديوشـي پيژنـدنـه كـوي .

## عـقل پـرڅـو ډولـه دى ؟

تشريح: عـقل پـه عـمومـي ډول پـر دوه قسمــه دئ لكـه: ۱عـقل مــعاد ، ۲عــقل مــعاش دي .

## ۱ عــقل مــــعاد

شرحه: عقل معاد هغه عـقل دى چه الله (ج) انبيـاء عـلماء (ټولوانسانانوته) وركـړئ دى چي دهغـه پـواسطـه دالله (ج) پيژنـدنـه او داخرت چـاري پرمـخ يـوسي لكـه: ملايكـي كتابونـه او نـورو پيـژنـدل

يعني يـوازى اُخـروي چـــاري (كــارونـه) پكـي نغښتــــي دي .

## ۲ عــقل مـــعاش

شرحه: عقل مـعاش هغه عقل دى چـي انسانـان دهغـه پـواسطه د دنـيا چـاري پرمـخ وړي يـعني دا عقل ددنـيا پـه چـارو كـي ورڅخه ګټـه اخلـي لكـه: ديوه شـى رانيـول او خـرڅـول ګټـه كـول او نور..

## دعــقل زكـات څه شـي دئ

شرحه: حضرت ابوبكرصديق(رض) فرمايـي چي دعـقل زكات دادئ چي دبـي عـقلـو خلګو پـركـړنـو خبـرو او كـارونـو بانـدي صبـر زغـم او تحمـل وسـي دا دعــقل زكـات دئ.

## عــقيـده

تعريف: عـقيـده په لـغت كـي دغـوټـي وركـولـو ، وعـدې ژمنـي پـه معنـى ده او په اصـطلاح

كـي د هغه څه پـرحـقانـيت حكم كولـو ته وايي چي په زړه كي يي دشـك اوشبهـي ځاى نه وي .

## تـــوحيــد

تعريف: تـوحيـد پـه لـغت كـي يـووالـي ته وايي او په اصطلاح كي دالله (ج) په يووالي سره پيـژندنه ده.

د الله(ج) پـر يووالي بانـدي قـرآني دليل [ لَوْكَانَ فِيْهِمَا اَلِهَةٌ اِلَا اللهُ لَفَسَدَتاً ]الانبياء س ۲۲ آيت .ژباړه:

كه چيري په ځمكه اويا آسمان كي پرته دالله(ج)څخه نورخدايان واى نوخامخا به ئي نظام فاسد شوى واى.

## دتـوحيـد ډولـونـه

شرح: تـوحيد پـر دري قسمـه تقسيم شوی دئ لکـه: ۱ تـوحيد ربـوبيت ، ۲ تـوحيد الـوهيت ، ۳ تـوحيــد اسمـاء وصفـات دئ.

## تـوحيـد ربـوبيت

شرحه: تـوحيد ربـوبيت ددې خبـري منلـو او اقـرارته وايـي چي الله (ج) رب ، مالک ، پيداکـوونکی رزق ورکـوونکی ژونـد اومـرګ ورکـوونکی يـوازي الله (ج) دئ په ټـولو چـارو کـي خـودمختـار دئ اوهيڅ شريـک نـه لـري نـو مـوږ وايـو چي رب مـو يـو دئ . او پـرټـولـو مخلـوقـاتـوعــالم دئ.

## دتـوحيد ربـوبيت ګټـي

شرحه: ۱ په انسان کي تقـوی پيداکيدل ،۲ لـه مخلوقاتــو څخه طمع قطع کيدل ،۳ پـه انسان کي ميرانه پيـــداکيـدل او نور.....

## دتـوحيد ربـوبيت ضـد

شرحه: دتـوحيد ربـوبيت ضـد دادي چـه دالله(ج) د وجـود څخه انکــارکـول ، دالله (ج) تــرڅنـګ دبـل متصرف عقيـده درلـودل ، دالله (ج) سره شريـک نيـول پـه ذات او صفاتـو کـي نور.......

## الله (ج) داټول کاينات دځه شي لپاره پيداکړي دي

شرحه: ټـول کاينات الله (ج) دخپل عبـادت لپـاره پيداکـړي دي او دتـوحيـد الـوهيت مـعنی هـم داده چـه ټـول مخلـوقات به ديـوه الله(ج) عبـادت او اطاعت کـوي څـکه الله(ج) په قرآنـکريم کـي فـرمايلـي دي :

« وَمَاخَلَقْتُ الْجِنّ وَالاِنْسِ الاّ لِيَعْبُدُونَ » الذاريات س ۵۶ آيت .ژباړه: ما نه دي پيداکړي پيريان او انسانان مګر دخپل عبادت او( پيژندني ) لپاره.

## دتـوحيـد الـوهيت ارکـان څـودي؟

شرحه: دتـوحيد الـوهيـت ارکـان دري دي لکه: تـوحيدالاخلاص ، تـوحيدالصدق ، تـوحيدالطريق .

## تـوحيـد الاسمـاء وصفـات

شرح: تـوحيد الاسمـاء وصـفات دادي چي الله(ج) تـه هغـه ښايسته نـومـونـه اوصفتـونه پـه کامـله او دوامـداره تـوګـه ثـابت سـي ، چه الله(ج) په خپل مقدس کتاب(قرآن مجيدشريف) کي ځان پـه مـوصوف کـړی دی او هـم خپل محبوب پيغمبر حضرت محمد (ص) ستايلی دئ .

## دتـوحيـد الاسمـاء والصـفـات ضـد

شرحه: هغـه څه چـي تـوحيـد الاسمـاء والصفـات ضـد دي هغـه الـحاد دئ يعني ( تـعطيل ، تمثـيل ، تکـييف ، او تـحريف ) بيـان ټـول يکښـي داخـل دي .

## د الــحاد تــعريف

تعريف: الحاد په لغت کي مېل او کوږوالي ته وايي او دملحدينو څخه يي مراد هغه کسان دي چي دحق څخه يي دباطل وطرف ته يي ميلان کړی وي او په اصطلاح کي له هغه څه څخه تجاوز کولو ته ويل کيږي چي پرهغه عقيده درلودل يا عمل کول فرض وي.

## تعطيل

تعريف: تعطيل په لغت کي دفراغت او پريښودلو په معنی دی .او په اصطلاح کي د الله (ج) دنومونو او صفتونو څخه انکار کولو ته وايي چي پرهغه عقيده او ايمان لرل فرض دی .

## دتعطيل ډولونه

شرحه: تعطيل پر دوه ډوله دی لکه : ۱ کُلي تعطيل ۲ جُزئي تعطيل دي چي تعريفونه ئي په لاندي ډول دي.

## کُلي تعطيل

تعريف: کُلي تعطيل هغه تعطيل دی چه دالله (ج) دټولو صفاتو او أسماؤ څخه يوڅوک انکار وکړي او منکر سي .

## جُزئي تعطيل

تعريف: جُزئي تعطيل هغه تعطيل دئ چه دالله (ج) دځينو نومونو اوصفتونو څخه يوڅوک انکار وکړي او منکرسي.

## تمثيل

تعريف: تمثيل په لغت کي ديو شي مثل او سيال ثابتولو ته وائي. او په اصطلاح کي دمخلوقاتو صفات د الله (ج) دصفاتو په څير ګڼل ادا ډول عقيده درلودل تمثيل بلل کيږي .

## تکييف

تعريف: تکييف په لغت کي څرنګوالي ته وائي. او په اصطلاح کي د الله (ج) دصفاتو کيفيت بيانول تکييف بلل کيږي .

## تحريف

تعريف: تحريف په لغت کي تغيرته وائي. او په اصطلاح کي يو شرعي نص ته معناً يا لغتاً تغير ورکولو ته تحريف ويل کيږي .

## دتـوحيــد دكليمــي شــرطــونه

شرحه: دتـوحيـد كليمـه يـوازي الـفاظ نه دي چـي بس پـه خـوله بانــدي وويل ســي پــه معنــى اوغــوښتنــو ئـي عـمل ونه ســي. لکـه څـرنګه چـي هرشى ځـان ته شـرطـونه لـري نـو دتـوحيــد کليــــمه هــم ځــان ته شــرطــــــونه لـــري چي لانــــدي به واضيح شي .

١ عــلم (پوهه) ، ٢ کفــر بالطاغـوت ٣ يقيـــن (بـاور) ٤ قبلـــول (منل) ٥ انـقـياد (غاړه ايښودل)
٦ اخـلاص (ريښتـولي) ٧ محبت (مينه لرل) ٨ صــدق(حقيقت) ٩ استقامت(تراخره ټينګ پاته کيدل)
دا نهــه ســره دتـوحيـــد دکلـيمــي شـــرطــونـــه دي .

## ايـــمان (باور)

تعريف: ايمــان په لــغت کــي بــاور او يقــين تــه وائــي. او پـه اصطـلاح کـي پـه ژبه اقـــرار او پــه زړه تصـديـق تـــه ايمــــان ويل کيـــږي.

## د ايمان ارکـان څــو دي

شرحه: د ايمـان ارکـان شپـږ دي لکه: ١ پــرالله (ج) بانـدي ايمـان لـرل ٢ پـرمـــــــــلايکــو دهغـه
٣ پــرکتابــونـو دهغـه ٤ پـر رسـولانـو دهغـه ٥ داخــرت پـر ورځ ٦ او دخير اوشـر اندازه ده .
او ځينـــو عُلماؤ بيا دايمان ارکـان اووه بللـي دي چـي دهغـو له جملــي څخه يـو ئــي هم په بــيا ژونــــدون بانــــدي ايــمان لــــرل دي.

## د ملايکـــو صـــفات

شرحه: ملايکــي شهوت نه لـري ، تــوليـد او تناسل نـه کـوي ، مــؤنث او مذکـــر نــه لـــري، خــــوب او خـــــوراک نکــــــوي او دنــــده ئي يــوازي دالله (ج) عـــبادت کول دي.

## دمـــلايکـــو طبيـــعت

شرحه: مـلايکــي د الله (ج) داســي مخلــوق دی چه تـل مـدام پـه عبادت بوختــي وي.او دالله (ج)د آمر څخه سرغړونه نه کــوي.

الله(ج)فرمائي : [ لاَيَعْصُونَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ]:[د التحريم سورة(٦) آيت]:

ژباړه : په هغه څه چي الله تعالى ئي ورته امــر کــوي هغــوی هيڅکلــه نافــرماني نــه کوي او دکوم څه چي امـــر ورته کيــــږي بس دوی ئـــي کـــوي.

## پيــريان (جنات)

تعريف: پيـري تـه په عـربـي ژبـه کـي جن ويل کيـږي داڅکه جن ورتـه وائـي چي پـه سترګـــو نه ليـــدل کيـــږي. او په اصطـلاح کـي هغـه اجسام دي چـه لـه اورڅخه پيداشــوي دي اودشکل دبدلــــون قدرت لـــري.

## آيا پيــريان مكلفيت لـري ؟

شرحه: پيـريان هم دانسان پـه څيــر مكلف مخلــوقات دي چـــي پــر الله (ج) او نــورو ايـمان راوړي ځكـه الله (ج) فـرمائي[ يَا مَعْشَرَ اَلْجِنَّ وَالْاِنْسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُولٌ ] [سورة الانعام(١٣٠) آيت] ژبــــــاړه:
اى دپيــريانـو او انسانانـو ټولـى ! آيـا مـوږ تاسـي تــه رسـول نـه ؤ رالیـــږلئ.

## ابلــــيس

تعريف: ابليس دابـلاس له كليمي څخه اخيستل شـوى دئ په معنـى دزيات ناهيلـي سـوي دئ.او پـــه اصطـلاح كـي هغه جن ته ويل كيـږي چـي دالله (ج) د امـرڅخه ئـي ســرغـړونه وكـړه او د آدم (ع) دتابــع كيــدو څخه انـــكار وكــړ.

## شيـــطان

تعريف: شيطان سـركښ ، اوغــاړه غـړوونكـي تـه ويـل كيــږي. او په اصطـلاح كـي شيطان هغـه پيـريانـــو تـه ويـل كيـږي چي د الله تعالى نافـرمانـي ئـي كــړې ده او د ابلـــيس اولاده ده.

## دپيـــريانـــو غــــذا

شرحه: دپيــريانــو غــذا هډوكـي ، كـولا او خـوشائـي دي. او مسلمـانان پيــريان هغه هډوكي خـــوري چـي دالله (ج) نـــوم پري ياد شـوى وي.

## دپيـــريانـــو داوسيـــدو ځـاى

شرحه: دمسلمانــو پيــريانـــو داوسيــدوځايـــونه هــواري ځمكي او غــرونه دي. دمشـركـو پيـريانـــو د اوسيـــدو ځايـــونه بيا لكه: تشنابـونه ، حمامـونه ، مـرداري اوبه ، كثافات دانـــى او نور....

## د آسماني كتابــونوشمــير

شرحه: تــول آسمانـــي كتابـونه چـي په قـرآن كـريم اونبـوي احاديثـو بانـدي ثابت دي شميرئـي ١٠۴ دئ.

چي سل (١٠٠) ئـي صحيفـي او څلـور ( ۴ ) ئـى لـوى كتابـونه دي چه لانـدي ئـي نــزول بيانـوو .

## لومــړئ د صحيفــو نــزول

١ حضرت آدم علـــيه السلام ← ١٠ صحيفي پر نازلي شوي

٢ حضرت ابراهيم عليه السلام ← ١٠ صحيفي پر نازلي شوي

٣ حضرت ادريس عليه السلام ← ٣٠ صحيفي پر نازلي شوي

۴ حضرت شيث عليه السلام ← ٥٠ صحيفي پر نازلي شوي

## دوهـم دلویـو کتابــونو نــزول

۱ حضرت موسی علیه السلام ⟵⟶ (تورات) کتاب پري نازل شوی

۲ حضرت داؤد علیه السلام ⟵⟶ (زبـور) کتاب پري نازل شوی

۳ حضرت عیسی علیه السلام ⟵⟶ (انجیل) کتاب پري نازل شوی

۴ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ⟵⟶ (قرآنکریم) کتاب پري نازل شوی

## پـر قرآنکریم دایمـان درلودلـو دلیل

دلیل: الله تعالـی(ج) دالفــرقان سورت پـه لومـړي آیت کــي داســي فــرمایلــي دي .

[ تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيراً ] [سورة الفرقان ۱ آیت] ژباړه : بـرکتونه دي

وي هغه ذات لـره چي فـرقان ئي پـرخپل بنده نازل کړی دئ ترڅـو نـړیوالـو ته بیرووںکی ســي .

## هغه آیتــونه چي ترټولو لومړي نازل شوي دي

شرحه: په قرآنکریم کي تـرټـولو لومړی دسورة العلق لومړي پنځه آیتــونه دي چــي حضرت جبرایل (ع) به دحـراء په غـار کــي وه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته راوړل.

## په نـزول کـي تـرټـولـو اخیـرنــی آیت

شرحه: که څه هم په دي کـي دعلماؤ تـرمنځ اختـلاف دئ چي په نـزول کـي ترټولو اخیري آیت کـوم یو دئ .خـو زیات علـماء وائي چي په نـزول کـي تـرټـولو اخیرنی آیت پـه سورة المایده کـي دریم آیت دئ [ اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضَيْتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيْناً ] سورة المایده ۳ آیت: ژباړه

نن ورځ ما ستاسي لپاره ستاسي دین پوره کــړاو پـرتاسـي مي خپل نعمت تـمام کـړ او اسـلام مــي ســتاســي لـپاره دیــن غـــوره کـــړ.

## په نـزول کـي تـر تـولو وروستـی سورت

شرحه: که څه هم قرآنکــریم په تدریجي تـــوګه له هـري واقعــي سره سـم نازل ســوی دئ او د درویشتـو (۲۳) کلونــو په اوږدو کي مکمل سو خـو ځیني سورتـــونه دضرورت پـراساس پــر یوځای هــم نازل شـــوي دي. چي ترټولو وروسته پـریو ځای نازل سوی سورت د النصر سورت دئ.

## نبــي چاته وائي

تعریف: نبي په لغت کي له (نباء) څخه اخیستل شوي کلیمه ده چـي دیـو چا دخبـرولـو پـه معنـی ده.

اوپه اصطلاح کي دالله تعالی له لوري هغه خبر ورکوونکي ته ویل کیـږي چي دمکلفیت تقاضا کوي.

## رسـول چاته وائـي

تعریف: رسول په لغت کي داستازي ، پیغام وړونکي او پاځون په معنی دئ. او په اصطلاح کـي هغه چاته ویل کیږي چي په اُمت کي غوره شوی وي اومرسته ئي دالله تعالی له خـوا په وحیو سوي ده.

## دنبي او رسول ترمنځ توپیر

شرحه: دنبي او رسول تـرمنځ توپیر دا دئ چي نبي تـه نوی شریعت او قانـون نه وي ورکـول شـوی او رسول ته ورکول شوی وي. نبي پـه دعوت کـي مکلف نـه وي او رسول پـه دعوت او رسالت مکلف دئ.

## الـوالعـزمه پیغمبران کـوم دي

شرحه: ځینـي پیـغمبـران الله تعالـی دنـورو پیـغمبـرانـو څخه ممـاز او دلـوړ عـزم خـاونـدان نـومـولي دي چـي نـومونه ئـــي دادي لکه: ۱ حضرت ابـراهیـم (ع) ۲ حضرت مـوســی (ع) ۳ حضرت عـسی(ع) ۴ حضرت نـــوح (ع) او ۵ حضرت محمد (ص) چي وروستنــی پیـغمبـر دئ .

## دقیامت ورځ او ډولــونه

شرحه: د ایـمان پنځم رکـن دقیامت پـه ورځ ایمــان لـرل دي . چـي قـیامت په خپــل وار سره پـر دري ډولـه دی. ۱ کـوچنی قـیامت ۲ منـځنــی قـیامت ۳ لــــوی قـــیامت

الف: کـوچنی قیامت یعنـي دانـسان مــرګ ځوک چي مـړسي نـو قــیامت ئــــي شـروع ســـي ځــکه دی د اخــرت عالــم تـه داخــل ســو. ب: منځنـی قـیامت چي د یـوي پیـړئ دخلکـو مـړني منځنــئ قـیامت وائــی. ج: لــوی قـیامت یعني کله چــــي انسانان لـه مرګ څخه وروستـــه د حساب او کـتاب لـپاره دمړو را ژونـدي کیدا تـه لـوی قیامت وائـي. هرکلـه چي دقرآنکـریم په کـوم ځـای کـي چي د ( الساعة ) لـفظ راغلـی وي مطلب ئـي لــوی قــیامت دئ.

## پـه عـربـي ژبـه کي دقیامت نومونه

شرحه: دقیامت نــومـونـه ډیـر زیات دي ځکه شـان ئـي لـوړ دئ. عـرب چي یـوشـی غـټ ګڼـي نـو دهغه لـپاره نـومـونـه هم زیات ایږدي لکـه: د زمـري لـپاره چـي دوی شپیتـه (۶۰) نـومـونـه ایښـي دي نـــو الله (ج) پـه مـقدس کتاب قرآنکـریم کـښي زیات نـومـونه د قیامت د ورځـي راوړي دي لـــــــکه: ۱ الساعة ۲ یوم القیامة ۳ یوم البعث ۴ یوم الدین ۵ یوم الحسرة ۶ یوم التناد ۷ یوم الفصل ۸ یوم الحساب ۹ یوم الجمع ۱۰ یوم الوعید ۱۱ یوم الخلود ۱۲ یوم الخروج .....

## دقیامت دعـلامـو ډولـونه

شرحه: دقیامت عـلامـي پـر دوه ډولـه دي لکه: ۱ کـوچنـی عـلامي او ۲ غټـي عـلامـو بانـدي ویشـل شــوی دي. ۱ کـوچنـی عـلامـي: هغه عـلامـو ته ویـل کیږي چـي دقیامت دشـروع کیـدو څخه ډیـر تر مخه پیښیږي. او پیښیدل ئــــي عـادي وي. ۲ غټـي علامي: هغـو غټـو پیښو ته ویـل کیږي چـــي دقیامت پیلیـدو تـه نـږدي پیښیږي او غیـر عـادي وي لکه: د دجـال راوتـل ، دحضرت عسـی (ع) لـه

آسمانـه څخه پـرکعبي شريـفي بانـدي راکښتـه کيدل ، دياجـوج او ماجـوج راوتـل ، د لـويـديځ لخـوا څخه د لمـــر راختـل...

## دکـوچنــي قـيامت نخښــي دري ډولــه دي

شرحه: ۱ دکـوچنـي قـيامت هغه نخښـي چـي منـځ ته راغلـي دي. ۲ هغـه نخښـي چـي څـرګنـديـږي ياڅـرګنـدي سوي. ۳ د قيامت هغـه نخښـي چـي تـر اوسـه منځ تـه نـه دي راغلـي.

## ۱ دقيامت هغه کوچنی نخښي چي منځ ته راغلي دي

تشريح: لکه دحضرت محمد (ص) آستازيتـوب او وفـات ، دسپوږمـۍ ماتيدنه (چي دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم يـوه معجزه وه ) ، دبيت المقدس فتح ، پـه حجازکـي د اوربـښکاره کيدنـه ، دقـامت په اړه الله (ج) فـرمائـي [ اِقْتَرَبَتِ اَلسّاَعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ] القمر سورت ۱ آيت ژباړه: قيامت نـژدي سـو او سپوږمـۍ څيـري ( دوي ټـوټـي ) شـوه.

## ۲ دکـوچني قيامت هغه علامي چي راڅرګنـديږي

شرحه: د فتنـو څـرګنديدل ، دنبوت درواغجـنه دعوه کـوونکي پيداکيدل ، شـرعـي علم پورته کيـدل ، جـهالـت خپـريدل ، د پوليسو او ظالـمانـو لاسپـوڅـي زياتيـدل ، موسيقـي حـلالـه ګـڼل او آلات ئـي زياتيدل ، دشـرابـوڅښاک زياتـيدل ، زنـا زياتيدل ، چوپـان خلګ بـه په غرو کـي پـه سيالـــۍ بوختيدل ، جـوماتـونـه سينـګـارول ، وژنـه زياتيـدل ، کـار نـه اهلــو تـه سپارل ، خيانت کـوونکی امـانت دار ګڼل ، دحـلالـي روزي هڅه نـه کـول .....

## ۳ هغه نخښي چي تر اوسه منځ ته نه دي راغلي

شرحه: دا عـلامـي هـم په يقيني تـوګه منـځ تـه راځـي څکه پـه اړه ئـي مـوږ ته حضرت محمد(ص) خبر راکړی دی. ده ويلـي دي چـي دفـرات په سينـد کـي به د سرو زرو غـر څـرګنـد سـي ، استانبـول به پــرتـه لـه وسلـي فتحه سـي ، د قحتان له سيمي څخه بـه يـو کس څـرګنـد سـي چـي خـلـګ به ئي حکم منـي ، دنارينه وو کمښت او دښځـو زياتـوالـۍ آن تـر دي چـي يـو تـن به د ۵۰ ښځـو واکداره وي ، مدينـه بـه ړنـګه شـي ، دحبشـي يـوتـن بـه کعبه ړنـګـه کـړي او بيابه تـر قيامـته پـوري ونـه رغـول سـي ، دا د اخيـري زمانـي شيـبي دي. حال داچي اوس ئي موږ او تاسي وينو چي ځيني ئي ښکاره شوي دي.

## د بــرزخ ژونــد

تعريف: د دنـيا او اخـرت تــرمنـځ ژونـد تـه برزخ ويـل کيږي. يعنـي کـله چي د انسان لـه جسم څخه روح ووځـي او مړسي نـو دبــرزخ ژونـد ئـي شـروع سـي بيا دقيامت تـر راتـلــــو پـوري.

## روح څــه شــي ده ؟

تعريف: روح يـو نـوراني ، ژونـدئ او متحـريک جسم دئ چـي د انسان په جسم کـي ګـرځـي او هغـه ته دفعالـــيت تــوانائـــي ورکـــوي.

## پــرتقـديـر ايمان

شرحه: د تقديرمـوضوع علماوو پـر دوو بـرخـو ويشـي چي يـوي بـرخي ته ئـي قضاء اوبلـي بــــرخي ته ئــي قدر وائـــــي.

## دقضاء تعــريف

تعريف: قضاء په لغت کي په بيلابيلو معناګانو سره راغلي ده. لکه فيصله ، حکم ، پيدايښت ، اراده

او لازمـتيا سره ده . او په اصطلاح کي قضاء پر دوه ډوله ده چي لانـدي به در وپيژنـدل ســي.

## په اصطلاح کـــي قضاء

١ تکويني قضاء : دا هغه فيصله ده چي د کايناتـــو سره ارتـباط لـري. چي پـر انسانانو بانـدي پــــه اجباري او الــزامي ډول تطبيـق سـوي ده او انسان هيڅ ډول صلاحيت او مسؤليت پکي نه لــري.

## د قضاء ډولونه

شرحه: قضاء په دوه ډوله ده چي يوي ئي تکـــويني قضاء او بله ئي تشريعي(قانوني) قضاء وائي.

## هغه امـور چي په تکوينــي قضاء پوري اړه لري دي

١ دکايـنـاتـو جـوړښت (لمر، سپـوږمئ ، ځمکه ، اسمانــونه ، او دسيارو جـــوړښات).

٢ طبعـي پيښــي ( زلزله ، سيلابـونه ، او نور..)٣ قـومــي (منطقـوي او نـژادي تـړاو. ۴ دهــر چا د اجل ټاکــل. ۵ د انسان اناتـوميک جـوړښت (رنګ، پوست ، ټيټوالـی ، لـوړوالـئ او نور ...) .

## تشريعي قضاء (قانونـي قضاء)

تعريف: تشريعي قضاء هغه قضاء ته وائي چي الله تعالی ئي اختيا مخلوقاتـــو ته ورکـړی دئ.

## هغه امور چي په تشريعي قضاء پوري اړه لري

شرحه: ١ پـر يـو الله (ج) او پـرهغه څه چـي امر کـړي ئي يـو بـاور درلودل. ٢ ښه کارونه کـول او نـور خلګ هغـو ته رابـلل. ٣ تــر خپـلـه وسه پـوري د الله تعالی داحکامـو تطبيـقـول. ۴ داسـلام دمـقـدس ديــن دخپـرولـو لـپاره هڅـي او تـلاښ کــول. ۵ دقرآنکـريم نظـري او عـملــي تطبيـق کــول.

## قـــدر(انـــدازه)

تعريف: قدر په لـغت کـي اندازه کـولـــو ته وائی او په اصطـلاح کي هغي انـدازي ته وائي چي الله (ج) دټـول کايـنـاتـو لـپاره ټاکلــي ده. الله(ج) فـرمائي [ وَخَلَقَ كُلِ شَيْ ءٍ فَقَدْرَهُ تَقْدِيْرَاً ] الفرقان سورة ٢ آيت : ژباړه: الله (ج) هغه ذات دی چي ټـول کاينات ئـي په خپل قدرت سره پيداکړي دي او ورته ئـي خپله انـــدازه ټاکلــــي ده.

## نـــفاق

تعریف: نفاق په لغت کي له یـوي لاري څخه وتل او دبلي لاري له ننوتلـو څخه عبارت دئ .اوپه اصطـلاح کي د زړه خلاف اظهار کـولو ته نفاق وائي. او یا په بل عبارت په ظاهره مسلمانی او په باطن کي غیرمسلمانی ته نفاق وائي. چي نفاق پـر دوه ډوله دئ لکه: ۱عقیدوي نفاق ۲عملي نـــفاق.

### ۱ عـقیـدوي نـفاق

تعریف: دا هغه نفاق دئ چي یو څوک په عقیده کي داسلامي هدایاتـو پرخلاف معتقدات ولـري.

ځیني داسي کسان سته چي فقط د دنیوي ګټو په خاطر ئی ظاهراً اسلام منلئ وي اوپه باطن کـي داسلام خلاف عقاید لـري. الله (ج) په قرآنکریم کـي داسي فرمائي [ اِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرَاکِ اَلْاِسْفَلِ مِنَ النَّآرِ ]: سورة النساء ۱۴۵ آیت : ژباړه . بیشکه منافقین به د اور په لانــدي طبقـه کـي وي.

### ۲ عـملي نــفاق

تعریف: عـملي نفاق هغه نفاق دئ چي یو څـوک دداسي چارو مـرتکب سي چي نبي کـریم(ص) دنـفاق چاري بللي دي. او پـر پنځه ډوله دي لکه: ۱ په امانت کـي خیانت کـول. ۲ کله چه خبـري کـــوي نو درواغ وائــی. ۳ کله چه تړون وکـړي نو غداري په کي کـوي. ۴ کله چه ئی جګـړه شي نو کښنځل په کي کـوي. ۵ کله چي وعـده وکـړي(تړون) نـو تګـي په کي کـوي.

### هغه نعمتونه چي الله تعالی بنده ته ورکړي

شرحه: الله (ج) ډیـر نعمتـونه خپلو بنده ګانـو ته ورکـړي دي چي ځیني ئي په لانـدي ډول بیانیـږي. لکه

۱ دعقل نعمت ۲دایمان نعمت ۳دوحي نعمت ۴دپیغمبرانو درالیرلونعمت ۵دعلم نعمت ۶ داختیارنعمت

۱ : انسان ته عـقل ورکـړی دی چي دهغه په مرسته ښه او بد وپیـژني او له بدو څخه ځان وساتـني.

۲ : انسان ته ئي ایمان ورکړئ ترڅـو معنوي اړخ تـر مادي اړخ دایمان په زور زورور کـړي.

۳ : انسانانو ته ئي په بیلابیلو وختونو کي دلارښووني لپاره کتابـونه نازل کـړي دي او په هغه کي ئي ښه او بـد بــیان کــړي دي تـرڅـو انسان دحق او باطل په پیـژنـدلــوکي ستونـزه ونه لــري.

۴ : انسانانو ته ئي پیغمبران (ع) رالیـرلي دي چه دحق لاري چـاري خپلو امتـونو ته تبلیغ کـړي.

۵ : انسان ته ئي ددې تـوانائي ورکـړي ده چه زده کـړه وکـړي اود زده کـړي په مټ ځـان خپل خالــق (پیداکوونکی) او هـرڅه وپیــژني.

۶ : انسان الله تعالی اختیار ورکـړی دئ که ښه کـوي او که بـد چي ځینـي ئي په لانـدي ډول دي.

### کـوم کارونه دانسان په واک کـي دي

شرحه: ۱ ددین منلـو او نه منلو ۲ دلیکلو او ویلـو ۳ دکـړنو اختیار ۴ دیــو کار کـولو اونه کـولو ۵ دخــوړلـو اوڅښلــــو ۶ دحــلال او حــــرام کسـب او کار کـــولو.

## دعــملي نـفاق اسـباب

شرحه: ۱ غیراسـلامـي رواجـونـو سره مینه کـول چي هغه رواجـونه دي چي په اسلام کښي نه وي دئ دهغه څخه خونـد اخلي. ۲ دخپل نفسي خـواهشاتـو پیروي کـول دي کله چـــي دحـق او صـداقت دروازي وتـړل شي نــو الله (ج) ئــي له پامـه ووزي او اسلامي لاربـوونـي هـم پامـه غـورځـوي.
۳ شخصي مـفاد (ګټي) دي چه یـو ځـوک شخصي ګټي په نظر کـي ونیسي هلته دقوم دنقصاناتـو هیڅ پـروا نه کوي. ۴ دنیـوي خـونـدونه دي کله چي دنیـوي خـونـدونه د ژونـد مقصد وګڼل سي ایـمان او یقین ئي ضعیفه سي او دا نـمایشـي دینـداری یـوازي د دنـیا دتـرلاسه کـولو لـپاره وي. ۵ تقلیــدي جـمود دمـذهـب په نامــــه خـرافات دي چــي د اسـلام سره هیڅ تعلق نه لـري او دخپـل منځــي اختـلافاتــو سبب ګــرځـي له ځانـه پـرکـتاب بانـدي تـړي او داسي نور.....

## دکـفر تعـــریف

تعریف: کـفـــر پـه لـــغت کــــي پټـولـو او دانـکار کـولـو تـه وائــي. او پــه اصطـلاح کـــي داسـلامي شـریعت او نــورو مغیبانـو څخه انــکار کـولو ته کـفــر ویـل کیـــږي. او پر دوه ډولــه دئ لکه: ۱ اصغــر کـفـــر ۲ اکـــبر کـفـــر.

۱: اصغرکفر: دغه کفر ته لـه دي امله کـوچنـــی کفر وائـي چي پـه ارتـکاب ســـره ئــــي مرتـکب داســـلام لـه دایرې څخه نه وزي او د الله (ج) د نعمت په کفران ئـي اطـلاق کیـــدای ســـي.

۲: اکبرکـفر: دا هغه کفــردئ چي مــرتکبین ئـي پــه ارتـکاب ســره داسـلام له دایرې څخه وزي. چـي پـه پنځه ډوله دئ ۱ د درواغ ویلو کـفــر ۲ د لـوئي کـولـو کفـر ۳ تـردد (شک) کـولــو کفر ۴ دمخ اړولــو (اعراض) ۵ نــــفاق کـفــــــر دئ.

## شــــرک

تعریف: شـــرک پـه لـغت کي دیو شـي ګـډوډ کیدلــو یا پټـولو تـه وائــي. او په اصطــلاح کـي شـرک دې تـــه وائـي چي یـو ځــوک د الله (ج) ســره پـه ذات او صفاتــوکـي شــریک ونیسي شــرک بلل کیــږي .

## دشـــرک ډولـونـه

شـرحه: شـــرک پـــر دوه ډولـــه تقســـیم شــوی دی لکـه: اکبـــر کـفـــر او اصـغـــرکـفـــر.
۱:اکبـــر کـفــر: هغه کـفر دئ چي د الله (ج) پـه ذات یا صفاتــوکـي ځوک شریک کــــړي او یـا دعـبادت لـه اقسامـوڅخه یـو قسم دغیر الله (ج) لـپاره وکـړي لکه: ذبحه ، نــذر ، خیـرات او نــور چـــي پـه قـــرآنکـــریم او احادیثـو ثابت وي.

۲: اصغرشــرک: هغه شرک تـه ویل کیـــږي چـي په نیت او اراده ځــوک د الله (ج) ســره شریک ونیســي. لکه: عـبادت لـه ریاء سـره ، د دنـیا دلاس تـه راوړلـــــــو لـپاره عـــبادت کـــــــــول ، او نـــــور. الله (ج) دقــــرآنکـــریـــم پــه سورة الکهف کــي (۱۱۰) آیـت دئ: فــــــــرمــــــــائي
-[ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحاً وَلَايُشْرِكْ بِعِبَادِهِ رَبِّهِ أَحَدًا ] ژباړه: ځـوک چي له الله (ج) ســـره دمـلاقات امیـد لــري هغــوته په کار ده چــي نیـک اعـمال وکــړي او لــه خـدای (ج) سـره پــه عــــبادت کي ځـــوک شـــریک ونــــه ګـڼــــئ.

## داکبـرشـرک او اصغـرشـرک تـرمنځ تـوپیـرونـه

شرحه: ۱ داکبرشـرک په کـولـوسـره څـوک لـه اسلامــه وزي او پـه اصغـرشـرک په کـولـو سـره نه وزي. ۲ د اکبرشـرک پـه کـولـوسـره څـوک ددایـمي عذاب مستحق ګـرځي او پـه اصغـرشـرک کـي دایـمي عـذاب نـه وي. ۳ اکبرشـرک تـولـي نیکـۍ لـه منځه وړي او اصغـرشـرک یـوازي هغه نیکـۍ لـه منځه وړي لـه کـومي سره چي یوځای سي لکه: ریـاء لـه صدقـي سـره چي الله (ج) ئـي پــــه اړه ویلـي پـه سورة الانــعام کـــي فـرمایلـــــي دي او دغـو نـقطو تـه ئـي اشــاره کـــړي ده.

[ وَلَوْ أَشْرَكُوالَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُويَعْمَلُوْنَ ] ۸۸ آیت .سورة الانعام ) ژبـاړه: که چیـري دوی شرک وکـړئ د دوی تــول اعــمال بــه ضایــع شـــــي.

## د مشـــرک جـــزاء

تشریح: شـرک د الله (ج) پـه نـزد تـرټـولو بـده کـړنــه ده. ځـکه په دي سره یو کس د الله تـعالـی دمعبـــودیت حق بل چا ته ورکـوي. او هغه تــه پـه داسي مـقام ســـــره څـرګـنـدونـه کـوي چـي هغه مـقام الله تعالـی یـوازي دخـپل ځان لـپاره خاص کـړی وي نـو الله (ج) دي مجـرم او کبیـره ګـناه کـوونکي ته پـه دنـیا او اخرت کـي سختي سـزاګانـي اعـلان کـړي دي. چـي ځیني ئـي په لاندي ډول دي.

۱: مشـرک په مطلـــق ډول نجس (چټل) دي. الله (ج) ئــــي پــــــه اړه داســي فـــــرمائـلـــي دي.

[ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اِنَّمَا الْمُشْرِكَوْنَ نَجَسٌ ] سورة التوبه ۲۸ آیت. ژباړه : اې مؤمینانو مشرکین چټل دي.

۲: لــه مشـرک څخه الله (ج) او رسـول (ص) بیـزاره دي. الله تعالـی پـه سورة التـوبـه کـي چـي دریم آیت دئ فــرمائیلـــي دي. [ أَنَّ اللهَ بَرِي ءٌمِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَرَسُوْلُهُ...] سورة التـوبه ۳ آیت. ژباړه: بیشـکه الله (ج) او دهغه رســـول صلی الله علیه وسلـم لــه مشــرکانـــوبیـــزاره دي.

۳: لـه مشرک سـره نــکاح نـــه ده رواح. دمشـــرک لــه خپلــوی څخه الله (ج) مؤمـنـان منع کـــړي دي دا پــه دي معنـــی چـي مشـرک تـه به څـوک لـور او خـور پـه نـکاح نــه ورکـوي. الله تعالـــی(ج) فــرمائـــي [ وَلَاتَنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتَّي يُوومِنُوا..]سورة البقره. ژباړه: او پـه نــکاح مـه ورکــــــوئ (مسلمانانـي ښځـي) مشــرکانـــوتـه تــرڅــــو دوی ایـــمان راوړي.

۴: داعـمالو بطـلان: شـرک دانسان ټول اعـمال باطلـوي. الله (ج) پـه قـرآن مجید شریف کښـــي فـرمایلـي دي. [ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرَيْنَ ] سورة الـزمر۶۵ آیت. ژبـاړه : کـه تـه شـرک وکـړي نـو هـرومـرو بـه ستا عمل بـربـاد سـي او خامخابـه ته له تاوانـیانو څخه ئـي.

۵: لـه جنت څخه محـرومیت: مشـرک چـي دخپل شـرک لـه املـه هیڅ نیـک عمل ئـی نــه وي کـــړئ او شـرک په حالت کي مـړسوی وي. نـو جنت پـرحـرام دئ او دجهنـم په اورکي به وي الله (ج) فرمائي.

[ اَنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِااللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِيْنَ مِنَ أَنْصَارٍ ]سورة المایده ۷۲ آیت.

ژبـاړه: بیشـکه شـان دادئ. هـر چاچي دالله (ج) سره شـریـک ونیـوی نـو پـه تحقیق سـره الله تعالی (ج) پـر دغـه مشـرک بانـدي جنت حـــرام کـړی دئ.او ځـای دده اور د دوږخ دئ او نسته ظالـمانــــو تـــه هیڅ مدد کـــوونکـــی.

## ولاء او براء (دوستـــي او دښمنـــي)

دالـوَلاء(دوستي) تعريف: دوستـي پـه لغت كـي قـربت او نـژديوالي ته ويل كيـږي. او په شـرعـي اصطلاح كـي د الله (ج) دهغـه درسـول صلى الله عليه وسلم او داسـلام ددين دمتابعت كــوونكـــو ســـره محبت اونصــرت كـــــولو تـــه ولاء (دوستـي) وائــــى. په يـوه حديث شريف كي راغلي:

[ المسلم أخوا المسلم لا يظلمه ولا يسلمه ]أخرجه البخاري(رقم ٢٤٤٢،۶۹۵۱) ومسلم(رقم٢٥٨٠). ژباړه: يــو مسلمان دبل مسلمان ورور دئ نه پـرهغه بانـدي ظلـم كوي او نه ئـي دښمـن تـه تسليمـوي.

## البـــراء(دښمنـــي)

تعريف: البــراء اصل ( برِي ) دئ چـي په لغت كي پاكي او ليريـوالي ته ويل كيــږي. او پـه شرعي اصطلاح كـي د الله (ج) لـه سركښانـو ، كفارو ، او د الله (ج) له پلويانو او دوستـانـو سره بغض او عـــــناد تـه دښمنـــي وائــــي.

## سحـــر او كــــوډي

دسحرتعريف: سحـر پـه لغت كـي پټولـــو او دخپل اصلـي حالـت څخه د يـو شـي اړولـو تـه او يا باطل د حق پـــه بـڼه ښــكاره كـولـو تـه سحـر ويـل كيــــږي.او په اصطلاح كي هرهغه دم چي چـم او خطا ايستنه چي يو شی او كارپه پټـه تـوګه سره انسان ته د حقيقت ښـكاره كولـو ته سحر ويل كيـږي.

نـــوټ ( يادابښت )

سحـر دساحـر اوشيطـان په منځ كي يـو اتـفاق دئ. يعنـي ساحـر ځيني حـرام او شـرک كـارونه كـوي او دهغـه پـه بـدلـه كـي شيـطان دساحــــر مــــرستـه كـــوي.

## لـه ساحـر سره دشيطان دمـرستـي شـرطونه

شرحه: پـه لانــــدي كارونـــو پـه سرته رسـولـــو كـي سره شيطان دساحــر مـرسته كــــوي.

١: داسـي كـوډګران او سحـرګـران سته چـي دقـرآن مجيد آيتـونه پـر خپلـو پښـو تـري او پـر ګـرځـي.

٢: څــوک بيا سـورت الـفاتحه پـه ســـرچپه ډول ليكـــــي. ٣: ځـينـــي ئـــي بـــي اوداســـه لـمونځ كــوي اوځـينـــي ئـــي جنــوب ګــــرځـي. ۴: ځـينـي ئـي حـيوانات حلالــوي او د الله (ج) نـــوم وربـانـــــدي نـه يـادوي او ځـيـنـــي ئـــي ستـــورو تــه سجــــده كـــــوي. ۵: ځـينـــي ساحــران داسـي طلسمـونـه يـا منتــرونـه ليكـي او وائـي هـم چي په يـوه نا معلـــوم او غيـر مشهــــوره ژبـه ســــره وي چـــي هغـه د كـفـــــر جملــــي او دكـفـــــر كليمــــي وي.

## دسحــــــر دموجوديت دلايل

شـرحه: الله تـعالى (ج) پـه خپل پـاک او مقــدس كـتاب قـرآن مجيد شـريف كـي فـرمائيلـي دي.

[ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِيْنُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ ] سورة البقره ١٠٢ آيت. ژبـاړه: يهـودو دهغه څه متابعت وكـړ چـي شيطانانــو بـه دسليمان (ع) دپاچاهۍ پـه وخت كـي وايه (چي هغـه سحـــر ؤ).

: ابن کثیر نقل کوي چي سلیمان (ع) دسحر او کوډو ټول کتابونه چي دشیطانانو لخوا په خلکو کي خپاره سوي وه راټول کړل او دخپل کټ لانــدي ئي ښخ کړل ترڅو خلګ ګمراه نه سي.

## دساحر دپیژندنې علامې

۱: د تعویذ کښلو په وخت کي دناروغ څخه دنامــه او دهغه دمور دنامه پوښتنه کوي.

۲: دتعویذ په شکل طلسمونه او منترونه لیکل. ۳: ناروغ ته ځیني شیان ورکوي چي په ځمکه کي ئي پټ کړي. ۴: ناروغ ته ځیني ورقي او پلیتي ورکوي چي د دودولو لپاره. او نور داسي کارونه چي جـــواز په اسلام کــي نـــه وي کــوي ئي.

## ساحر اوفالبینـو ته د وردګ حکم

شرحه: کوډګرو،کاهینانو،فال بینو،اوغیبو ویونکو ته وردګ شرعاً حرام دئ ځکه دا خلګ دشیطان پیروان دي .حدیث شریف:[مَنْ أَتِي كَاهِناً فَصَدَّقَهَ بِمَا يَقُوْلَ فَقَدْ كَفَربِمَا أَنْزَلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّي الله عَلَيْهِ وَسَلَّمْ] رواح البخاري ، جلد ۹ صفحه ۴۴۰ .

ژباړه: هر څوک چه فالګیر( هغه کس چي دعلم غیب دعوه کوي )ته ورسي او دهغه خبري رښتیا وګڼي دغه کس پر هغه څه کافر سو کوم چي پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندي نازل سوی دئ.

## دساحـر دمـرګ حکـم

شرحه: د امام ابـو حنیفه (رح) او امـام مالک (رح) قول دا دئ چي دساحـر جـــزاء مـــــــرګ دئ ودي وژل ســـي. ابن منذر (رح) وائـي: کـه یو چـا دا اقرار وکـړئ چي ما په داسي خبـرو سره سحر وکړ چي په هغو خبرو کي ئي کفر ؤ.که دغه سړي توبه ونه ایسته وژل ئي واجب او لازم دي.

امام شافعي رحمت الله علیه وائي: ساحر نـه وژل کیږي. مګر کـه ئي دا اقرار وکړ چي ده په خپل سحـر سره بل څـوک وژلـی دئ هغه وخت پـه حد او قصاص سـره وژل کیـږي.

## د سحـر زده کـړه

ابن قدامه (رح) وائي: د سحر زده کول او بل چا ته ئي ښوول دواړه حـرام دي. او وائـي پـه دغه قـول کـي دعلماؤ هیڅ اختـلاف نـــه دئ رامعـلوم.

دحنبلي هذهب علماء وائي : ساحـر دسحـر په زده کـولو او په کـولو یو قسم کافر کیـږي. دا فـرق نه لـري کـه دئ دغه زده کړه حـلاله بـولـي که ئي حرامه بولـي خو دئ ئي په زده کړه کافـر کیږي.

## له سحـر څخه دخلاصون لاري

شرحه: کـه پـه یو چا سحر ســوی وي لاره ئـــي دا نـه ده چـــي پـــه سحـــرځان ځیـــنـي خلاص کــــړي ځـکه شـــر پـه شـــر لـــه منځه نـه ځـــي. بلـــکي دخـــیـر لاري چاري بایـد ورتـه ولــــټول ســـي. چـــــي ځینــــي ئـــي پـــه لانـــــــدي ډول دي.

۱: کـه څوک سحر یـا جـادو پـه قــرآني آیتـونـو او پــه رواح درمـــلـو او جائــز دم لـه منځه وړل څـه پـــروا نه لـــري. خـو دسحـر طـریقـه ئـي حـرامـه ده ځکـه سحـر دشـیطان عـــبادت دئ.

۲: د سحـر او جـادو شـرعــي عـلاج دادئ چـي پـر ناروغ بـانـــدي دقرآنکـریم لـوی سورت(الفاتحه) پـه وار وار تـلاوت سـي. دا سورت چـي صالـح او مؤمـن سـړي پـه خـوله وویل سـي د الله (ج) پــه قـدرت سـره ئـي سحـر لـه منځه ځـــي او اختـه کس دناروغی څخه خلاصیـــږي،

۳: د کـوډو تـداوي او وقـایه پـه قـرآني آیتـونـو سـره کیـږي. هـر مسلمان تـه پـه کار ده چي دشپـي لخــوا د بیده کیدو پـرمـهال سـورة الاخلاص او سورة النّاس ووائـي او پـرځان ئـي دم کـړي پـه دي درې ګټي دي. اول: دسنتـو پیـروي ده. دوهـم: دبیـده کیدو پـرمهـال تـلاوت دئ. دریم: کـوډي لـه منځه وړي او پــه آینده کـــي پــه ســړي بانـــــدي کـــوډي کـــوم اثــر نــه کــــوي.

## وحـــي (خفي کلام)

تعـریف: وحــي پـه لغت کي اشارې، پیغام ، الهام، او خـفي کلام په معنـی دي. او دعـقایـدو دعلم پـه اصطـلاح کي د الله تعالی (ج) لـه لـوري په پټه تـوګـه دخپل نـبي خبـرولـو تـه وحــي ویل کیـــږي.

## د وحیـو ثبـوت او دلیل

شرحــه: دسـورت الـنجـم پـه یـوه آیت کښـــي الله جل جـلالـه دپیغمبـرانـــو پـــه هـکله فرمائـــــي :

[ وَمَا يُنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ★ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحىٌّ يُوحَى ] سورة النجم ۳،۴ آیت ) ژباړه: هغـه (پیغمبر) لـه خپل نفسـي خــواهش څخه نـه ږغیـږي. دا یـــوه وحـي ده چـي پـــر هغه نازلیـــږي.

## د وحیــو ډولـــونه

تشریح: وحـي پـردري ډولـه دي. ۱ پـه خـوب کـي. ۲ د پـردي تـرشا خبـري. ۳ د ملایکي په واسطه.

۱: الله (ج) حضرت ابراهیـم (ع) تـه پـه خـوب کي وویل چي خپل زوی اسماعیل (ع) ذبحه کـړي.

۲: یعنـي پـه دي صورت کـي پـرته له کومي واسطي الله تعالی(ج) دخپل پیغمبر سره خبـري کـولي لکه

د حضرت مـوسی (ع) سره چي الله (ج) په بلاکیف ډول خبـري وکـړي. الله (ج) په یوه آیت کي فرمائي:

[ وَکَلَّمَ اللهُ مُوْسَى تَکْلِیْماً ] سورة النساء ۱۶۴ آیت ) ژبـاړه: الله (ج) لـه موسـی (ع) سـره پـه بلاکیف ډول یعنـي مخامـخ خبـــري وکـــړي.

۳: او دا ډول وحـــي بیا دحضرت جبرائیل(ع) دنده ده چـي د الله (ج) پیغمبـرانـو تـه وحـي کیـدي.

## د انبیاوو شمـــیر

شرحه: پـه قـرآنکـریم کـي دپنځه ویشتو (۲۵) انبیاوو یـادونـه شـوي ده چـي د ۱۸ تنـو نـومـونـه پـه سـورة الانـعام کـــي ذکــر شـوي دي. او اووه تنه ئـی دقـرآنکـریم پـه نـورو سـورتـونـو کـي ورڅخه یادونـه شـوي ده.

## د انـبياوو صفتـــونه

شرحه: دانـبياوو عليهـم السـلام صفتـونه پـه قرآنکـريم کـي ذکـر سـوي دي چي په لانـدي دول بيانيږى.

۱ عصمت (پاکوالى) .۲ بشريت (انسانان). ۳ زيرکتيا (لوړفهم). ۴ نارينتوب (ښځي نه دي پکي راغلي).

۱: پاکوالى په دي معنى دئ چي الله(ج) خپل ټول انبياء په خپل فضل او کرم سره له نبوت څخه مخکي او هم وروسته له ټولو ګناهونو څخه پاک او منزه ساتلي دي.

۲: بشريت: په دي معني دئ چي ټول پيغمبران په بني آدم دي يعني دانسانانو له ټولئ څخه وه. خوب خـوراک او څـښاک ئى کاوه. ناروغه کيږي ترږي کيږي نکاح کوي په غيبو نه پوهيږي.

۳: زيرکتيا: په دي معني چي هـر نبي دلــوړ فـهم څخه برخمن ؤ.

۴: نارينتوب : ټول علـماء په دي اتفاق دي چي ټول انبياء نارينه راليږلي دي هيڅ ښځي ته دنبوت منصب نه دى ورکړب شوى. آن تر دي پوري چي ځينو علـماوو په دي خبره اجماع هـم نقل کړي ده. ځکـه الله تعالى (ج) فـرمايلي دي [ وَمَا اَرْسَلْنا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالَهُ نُوْحِى اِلَيْهِمْ ] سورة اليوسف ۱۰۹ آيت. ژباړه:

اى محمده (ص) له تانه مخکي چي موږ کوم پيغمبران ليږلي وو هغوى ټول سړي ؤ. او دهغوى لوري ته مو هـم وحي ليږلي وي.

## معجــــزه

تعـريف: معجزه داسي کار او وينا ته ويل کيږي چي دنبوت او رسالت له دعوا لرونکو څخه صادريږي چي نور انسانان ورڅخه عاجز وي.

## د معجــزي ډولــونه

شرحه: د انبياوو او رسولانو عليهم السلام معجزي په دوه ډوله دي لکه محسوسي او غير محسوسي .

۱: محسوسي مجزي: له هغه ډول معجزو څخه عبارت دي چي انسانان ئي په پنځه ګونو حـواسو سره ئي درک کوي . لکه: دصالح(ع) په دعا سره له غره څخه دبلاربي اوښي را ايستل . او دموسى(ع) لکړه په مار بدليدل، او دنيل بحر دوه ځايه کيدلاو نور....

۲: غيرمحسوسي معجزي: دا هغه معجزي دي چي دعقل په وسيله درک کيږي. لکه د راتلونکي غايبو واقعاتو او حوادثو په اړه معلومات ورکول، او پر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوى کتاب (قرآنکـــريم) چي دحضرت محمد(ص) تر ټولو ستره معجزه ده.

## کـــــــرامت

تعـريف: کـرامت په لغت کي عـزت او درناوي ته وائـي. او په اصطلاح کـي هغه خـارق العاده کار څخه عــبارت دى چـــي لـــه ولـــي څخه صادريـــږي.

الله تعالى فـرمائي [ وَلَـقَدْ کَرَّمْناَ بَنِـيْ اَدَمَ ] سورة الاسراء ۷۰ آيت. ژباړه : بيشکه د آدم عليه السلام اولادي ته مــي عـزت ورکـــړى دئ.

## استـدراج

تعـريف: استـدراج پـه لغت كـي قدم په قدم پـورته ختلـو ته وائــی. او په اصطلاح كـي هغه خــارق الـعاده كار څخه عـبارت دی چـي د كافـر يا فاسق شخص څخه صادريـږي. الله (ج) ئي په اړه وائي

[ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُواَ بِآيَاتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ] سورة الاعراف ۱۸۲ آيت. ژباړه: او هغه كسان چـي زمـوږ آيتـونـه ئـي دروغ ګڼلـي دي نـو هغوی بـه مـوږ پـه داسـي تـدريجي ډول هـلاک كـــړو چـــي هغــوی بــه خـــبر هــم نــه وي.

## د الله (ج) ذاتــي صفتـونه

شـرحه: د الله (ج) ذاتي صفتونه هغه صفتونه دي چـي په ضد سـره ئــی الله (ج) نـه مـوصوفيږي.
چي اووه دي لكــه: ۱ حـيات (ژونـد) ۲ عــلم (پـوهـه) ۳ كـلام (خـبري كـول)
۴ اراده (هـوډلـرل) ۵ قـدرت (تــوانائـــي) ۶ سمــع (اوريـــدل) ۷ بصر (ليـــدل).

۱: د حـــيات قــرآني دليل [ اَللهُ لَآاِلَهَ اِلاَّهُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمَ ] سورة البقره ۲۵۴ آيت. ژباړه: الله (ج) هغه ژونـدی ابـدي ذات نه پرته چـي ټول كاينات ئـي تنظيم كـړي دي بل هيڅ خـدای نشته.

۲: عـلم چي د الله (ج) ازلـي او ابدي صفت ګڼل كيـږي ددي صفت په ضد سره نه موصوفيـږي.

۳: د كـلام (خـبـري كـول) قـرآني دليل [ وَكَلَّمَ اللهَ مُوسَى تَكْلِيْماً ] سورت النساء ۱۶۴ آيت. ژبــــــاړه: الله تــعالی (ج) له مـوســـی (ع) ســره پـه بلاكيف ډول مخامخ خـبـري وكـــړي.

۴: اراده هــر څه په عالم كي پيداكړل شوي او يا پيداكيږي دالله (ج) په اراده سره په وجود راځي.

الله تعالی (ج) فـرمائي [ فَـعَّالُ لِّمَا يُرِيْدُ ] سورت البروج ۱۶ آيت. ژباړه: پـوره كــوونكـی دئ دهغه څـه چـــي اراده ئـــي وكـــړي.

۵: د قدرت (تـوانائي) قـرآني دليل [ اِنَّ اللهَ عَلَى كُلِ شَيْ ءٍ قَدِيْرَ ] دال عمران سورت ۱۶۵ آيت. ژباړه:

په تحقيق ســـره الله تــعالی په هــر څه قــادر (توانا) دئ.

۶: د سمع (اوريـــدل) قـرآني دليل [ وَاللهُ سَمِيْعٌ عَلِيْـم ] سورت البقره ۲۲۴ آيت. ژباړه: الله (ج) اوريـدونكـــی دئ. دټــولـــو اقـــوالـــو او احــــوالـــو عــالـــم دئ.

۷: د بصر (لـــيـدل) قـرآني دليل [ اِنَّ اللهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرَ ] سورت البقره ۱۱۰ آيت. ژباړه: په تحقيق ســره الله تــعالی ليـــدونكـــی دهغه څـــه دی چـــي تاســي ئـــي كـــوئ.

## د الله (ج) فعلي صفـتـونه

شرحه: د الله (ج) فعلي صفتونه هغه صفتونه دي په ضد سره ئي الله (ج) موصوفيـږي او ځلور دي.

۱: تخليق ( پيداكول ) ۲: ترزيق (روزي وركول) ۳: احياء (ژوندي كول) ۴: اعزاز (عزت وركول).

## د بعث معنی څه ده

تعـریف: بعث په لغت کي لیږلو ، پاڅولـو او را ژوندي کولو ته وائي. او په اصطلاح کي جسدونو ته داراواحو بیرته راګرځولو او د قبرونو څخه را پاڅولو ته بعث وائي. الله تعالی (ج) په دي اړه فرمائي

[ وَ انَّ اللهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرَ ] سورة الحج ۷ آیت. ژباړه: او بیشکـه الله (ج) هغـه خلک راپاڅـــوي چـــي پـــه قـــبرونـــو کــــي دي.

## د حشـر معنـی څه ده

تعـریف: حشر په لغت کي د قیامت په ورځ دفیصلي او حساب لپاره د انسانانو راټولیدو ته حشر وائي.

الله تعالی (ج) ئی په اړه فرمائي [ وَاعْلَمُوَا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ] سورة البقره ۲۰۳ آیت. ژباړه: او ښه پــوه شــئ بیشکـه تاسـي بــه د الله (ج) حضور تــه راټــولیــږی.

## د صراط پـل

تعریف: صراط پـه عربي ژبه کـي د لـوئي لاري په معنی دی. او پـه اصطلاح د هغه پل څخه عبارت دی چي دټـــولو خلکو لپاره د قیامت په ورځ دجهنـم پـرملا ایښودل کیـږي. الله (ج) ئی په اړه وائي .

[ وَ اِنَّ مِنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ] سورة المریم ۷۱ آیت. ژباړه: نشته هیڅـوک لـه تاسـو څخه مګـر داچـي جهنم تــه بــه واردیـــږي.

## جـهنـم

تعـریف: جهنـم دکنـدې په معنا دی. او په شـرع کـي جهنم د هغه اور نـوم دئ کــــوم چــي الله (ج) دکافرانـــو او د ګناهګارانــو مسلمانانو دعذابـولـو لـپاره تـیار کـړی دی. الله (ج) فـرمائي

[ فَاتَّقُوا لنَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسَ وَالْحِجَارَةْ أُعَدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ ] سورة البقره ۲۴ آیت. ژباړه: له هغه اور څخه وویریږئ چي د هغه خس به دانسانانـو اوکاڼـو وي چي دحق دمنکرانـو لپاره تیار کـړل شوی دئ.

## د ملایکـو دنــدي

شرحه: ملایکي د الله تعالی (ج) نــوراني مخلوق دی له نور څخه پیداشوي دي. تعـداد ئي دانسانانو په پرتله ډیر زیات دی خو فقط دځینو ملایکو نومونه په قرآنکـریم ذکرشوي دي. چي ځانګړي دندي لري .

۱: جبــرائل (ع) پیغمبرانو ته وحي نازلوي. ۲: میـکائل (ع) باد باران وریځي بریښنا اونور کنترولوي.

۳: عـزرائل (ع) دانسانانو څخه روح قبضه کوي. ۴: اسرافیل (ع) دقیامت په ورځ د سور شپیلئ وهي.

او همدارنګه نکیر او منکر دي چي په قبر کي دسوال کولو دنده پرغاړه لري. کرام الکاتبین دي اونور.

## فقـــــه

تعـریف: فقهه پـه لغت کي پوهي او زیرکتیا په معنی ده. او په اصطلاح کـي په شرعـي احکامو باندي داسي پوهي ته وائي چي له دلایلو څخه راوتلي وي.یا پ بل عبارت هغه علم دی چي له شـرعي احکامـو څخه بحث کوي.

## شرعـي احکام

تعریف: د مکلفینو دشرعـي افعالو صفتونو ته شرعـي احکام ویل کیږي. لکه: واجب ، فرض ، سنت ، مستحب ، مباح ، مکروه او حـرام.

## شـرعــي مصادر څـو دي

شرحه: شــرعـي مصادر څلـور دي لکه : ۱ قرآنکـریم ۲ سنت ۳ اجماع ۴ قــیاس

## د فقهي دعلم اصطلاحګاني

شرحه: د فقهــي دعــلـم اصطـلاح ګانـي پنځه دي. ۱ فــــرض ۲ ســـــنت ۳ مســتحب ۴ واجــب ۵ مـــــباح دئ.

۱: فـرض هغه عمل ته ویل کیږي چي په قطعي دلیل سره ثابت شـوی وي او دثبـوت په دلیل کښي ئـي شـک او شبهـه مـــــوجـوده نه وي.

۲: واجب په حنیفي مذهب کـي هغه عــمل ته ویل کیــــږي چـــي پــه قطعي دلیل ســـره ثابت شــوی وي او دثبـــوت په دلیل کښي ئي شـک او شبهـــه موجـــوده وي.

۳: سنت په لغت کي لاري او طریقي ته وائي. او په اصطلاح کي هغه عمل ته ویل کیـږي چي حضرت محمد (ص) په ټول ژونــد کي یـو یا څو واره پري ایښي وي.

۴: مستحب د اصحابو کرامو ترمنځ غوره چاري دي په کـولو ثواب او په نه کـولو عـذاب ننشته .

۵: مـباح هغه عـمل دی چـي په کــولو او نه کـــولو کـــي انسان د واک څښـــتن وي.

## د قــرآنکــــــریم نـومـونـه

شرحه: قرآنکـریم په ډیرو نومونو سره یاد شوی دئ چي ځیني ئي په لاندي ډول بیانیږي.

۱ قـــرآن ۲ الکـتاب ۳ نــور ۴ الفـــرقان ۵ الـــروح .

۱: الله تعالی (ج) فرمائي [ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْآنُ ] ســـورة البقره ۱۸۵ آیت. ژباړه:

د رمضان میاشت هغه ده میاشت ده چي قرآن پکي نازل کړی شوی دئ.

۲: الله تعالی (ج) فـرمائي [ ذٰلِکَ الْکِتَابِ لَآرَیْبُ فِیهِ هُدًی لِّلْمُتَّقِیْنَ ] سورة البقره ۱ آیت. ژباړه: دا هغه کتـاب دئ چي (هیڅ ) پکي نشتـه ، او لاربنوونه ده د پرهیزګارانو لپاره .

۳: الله (ج) فــرمائي [ وَ انْزَلْنَا اِلَیْکُمْ نُورًا مُبِیْنًا ] سورة النســاء ۱۷۴ آیت. ژباړه: او تاسو مو څــرګنده رڼـا نازله کړي ( چي قرآن دئ ).

۴: الله تعالی فـرمائي [ تَبَارَکَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَی عَبْدِهِ لِیَکُونَ لِلْعَالَمِیْنَ نَذِیْرًا ] سورة الفرقان ۱ آیت . ژباړه: هغه ذات برکتنک دئ چي فرقان ئي ددي لپاره نازل کړ، ترڅو دټولو خلکو لپاره د ویري خبر ورکوونکی وي .



بسم الله الرحمن الرحیم

۵: الله تعالی (ج) فـرمائي [ وَکَذَٰلِکَ أَوْحَیْنَا اِلَیْکَ رُوحاً مِّنْ أَمْرِنَا ] ســورة الشــوري ۵۲ آیت. ژباړه:
او په همــدي تــوګه مـوږ تـاتــه هـــــم په خپـل امـر ســـره روح راولیــږلــو.

*دکتاب دلیکلو نیـتـه: کال ۱۳۹۶ / ۱۳۹۷ هجري شمسي*

---

*۱ ډیر تفاوت سته په انسان کي دمعنا په لحاظ ۲ واړه مشغول دي ځیني ئي ځان ځیني جهان جوړوي*

*هـرکله چي الله(ج) در پیاد سي نو حمد او ثناء ئي وایاست او د راکړل شویو نعمتونو شکر ئي اداء کوئ*

*قـدرمنو مسلمانانو هرکله چي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم در پیاد سي نو درودشریف پر وایاست*

تــــرتیب کـــــــوونـکــــــئ سید نقیب الله آغا ( هــاشــــمي )